# بس دی بس دی

د اندیښنو او د فکرونو ټول کینې اړخو پلویانو
ولی خولی مو نه خلاصیږی ترڅوچپ یاستی یارانو
د وطن کا ڼی او بوټی د وحشت لمبو کی سوځی
د افغان په کور او کلي غورځوی بمب اجنبیانو
څو ټوکخورو د پردیوو د فکرونو اجیران شول
بی ننګی ته ملا تړلی تږی وږی ملایانو
څوک عربو ته خدمت کا څوک ایران اوپاکستان ته
څوک له کینې اړخ نه را پاڅید ځان کړخرڅ په غربیانو
څه چی پاتی له مزل شو ځان ته جوړ کړل ګروپونه
څه ځواب مو وی وطن ته تیتو پیتو ټول حزبیانو
که د کینې اړخ پلویان یاست سره یو شی وخت تیریږی
نور بهانی څه په کار نه دی وطن غواړی خپل بچیانو
سرمو ښکته کړی ګریوان ته شهیدان مو په یاد راوړی
چی بیرق یي را کوزیږی په لاسو د غلیمانو
زه(مل) سوزم په سره اورکی چی بیلتون دتاسي ګورم
بس دي ، بس دي ، سره یوشی مخکینی انډیوالانو

پو هندوی دوکتور سیدحسام (مل) * ( جرمنی   ۱-۱۱-۲۰۰۸

جرمنی۱-۱۱-۲۰۰۸